مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۴/۰۵/۲۵

# د یهودو عادلانه جګړې
(پنځه‌ېرشمه برخه)



(اسراییلي صهیونستان، د ماشومانو قاتلان، تاریخي وحشیان او ظالمان)

**د فلسطین په موعوده ځمکه کې اوسیدل، مشروط پر اطاعت دي (۱)**

**موعوده ځمکه او د یهوه خدای نه پلي کیدونکي ژمنې**

د اسراییلو خدای یهوه له ابراهیم نیولې تر موسی پورې له ټولو سره ژمنې کړې وې چې په کنعان کې د ځایي قومونو ځمکې به دوی ته ورکوي خو د یهوه دا ډول ژمنې تر پیړیو، پیړیو پورې اوږدې شوې، تر دې چې **ابراهیم، اسحاق، یعقوب، یوسف، موسی او هارون، د نومورې د ځمکې په ارمان کې مړه شول** خو یهوه خدای د خپلو ژمنو په پلي کولو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کې بریالی نه شو، سره له دې چې دغه پیغمبران سپیڅلي او د یهوه خدای منونکی کسان وو، په ځانګړي توګه ابراهیم او اسحاق.

اسراییلي کاهنانو چې خپل ټول دیني کتابونه یې د خپلې خوښې سره سم اړولي (تحریف) کړي دي، د کنعان ځمکې ته د نه ورتللو په اړه بېلابېلې پلمې وړاندې کوي او د خپل خدای یهوه له قوله وایي چې ابراهیم او موسی ته یهوه خدای اجازه ورنه کړه د فلسطین ځمکه ونیسي.

هغه مهال چې ابراهیم د یهوه خدای په امر له نني عراق څخه فلسطین ته وخوځېد، نو کله چې د کنعان سیمې ته ورسید، یهوه خدای ځان ورته ښکاره کړ ویې ویل: **«زه دغه ځمکه ستا نسل ته وربښم.»**[1]
ابراهیم د کنعان په ځمکه کې پاتې شو او یهوه خدای ابرام ته وویل:**«خپله شاوخوا په ځیر سره وګوره! دغه ټوله ځمکه چې ته یې وینې تا او ستا نسل ته یې د تل لپاره دربښم،** ستا نسل به د ځمکې د دوړې د زرو په څېر ډېر کړم. پورته شه، دغه ځمکه چې **تا ته دربښم** سرترپایه په کې وګرځه.»

(پیدایښت:۱۳/ ۱۴تر۱۶پورې)

په تېره لیکنه کې مو ولوستل چې یهوه خدای ابراهم ته وویل چې د کنعان ځمکه تا ته درکوم خو ابراهیم په شک کې شو ویې ویل چې «څرنګه ډاډه شم چې ته به دا ځمکه ماته راکړې؟» هغه وو چې یهوه خدای خپله کړې ژمنه څلورسوه دېرش کاله[2] وروسته واچوله او ابراهیم ته یې وویل:«ستا خوځات به څلور سوه کاله په پردي هېواد (مصر) کې د غلامۍ په حالت کې تېروي...»

د ابراهیم له مرګ وروسته یهوه خدای د هغه له زوی اسحاق سره هم ژمنه کړې وه چې ده او د ده زامنو ته به د کنعان ځمکه وربښي[3] خو یهوه خدای اسحاق ته نوموړې ځمکه ورونه کړه او د خپل پلار غوندې د کنعان د ځمکې په تمه مړ شو.

مخکې له هغې چې اسحاق ومري خپل زوی یعقوب یې وروغوښت دوعاګانې یې ورته وکړې چې د نورو دوعاګانو تر څنګ، یوه بنسټیزه دوعا د کنعان د ځمکې د ورکړې دوعا وه، هغه وویل:« بشپړ ځواکمن خدای یهوه، دې تا ته برکت درکړي او تا له دې ډېر زامن درکړئ چې ستا له نسله ډېر قبایل رامنځ ته شي، هغه [یهوه خدای] چې له ابراهیم سره د برکتونو ژمنه کړې ده، تا او ستا نسل ته دې [هغه برکتونه] ورکړي، **تر څو د دغې ځمکې څښتن شئ چې یهوه خدای ابراهیم ته ببښلې ده چې اوس‌مهال په دې ځکه کې موږ غریبان یو.»** (پیدایښت:۲۸/۳-۴-۵)

یهوه خدای له یعقوب سره همدا ډول ژمنه کړې وه، «وروسته له هغې چې یعقوب له بین‌النهرین څخه بیت‌ئیل ته راغی، یهوه خدای بیا ځلې ورته څرګند شو، هغه ته یې برکت ورکړ، ویې وویل:وروسته له دې، دې ستا نوم یعقوب ونه ویل شي، بلکې ستا نوم به اسراییل وي، زه یهوه بشپړ ځواکمن خدای یم، ستا نسل دې ډېر شي! ستا له نسله به ملتونه او پاچاهان رامنځ ته شي، **کومه ځمکه چې ما ابراهیم او اسحاق ته ورکړې ده، تا او ستا نسل ته یې هم درکوم.** بیا یهوه خدای آسمان ته پورته شو.» (پیدایښت:۳۵/۹تر۱۲پورې)

له دې وروسته یهوه خدای یعقوب هڅوي چې مصر ته کډه شي، وایي چې«شپې مهال یهوه خدای په خوب کې یعقوب ته ورڅرګند شو ویې ویل: یعقوبه! یعقوبه!
یعقوب وویل: اورم خدایه!

---

[1]: دپیدایښت کتاب:۱۲/۷.
[2]: د هجرت کتاب:۱۲/۴۱-۴۰.
[3]: د پیدایښت کتاب:۲۶/۳تر۵پورې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

ويي ويل: زه يهوه خداى يم، ستا د پلار خداى! مصر ته له تللو وېره مه کوه، زه به په هغه ځاى کې له تا څخه لوى ملت رامنځ ته کړم، زه به له تا سره مصر ته ولاړ شم **خو زه به ستا نسل له هغه ځايه، ستا خپلې ځمکې ته راستون کړم** او ته به په مصر کې مړ شې او يوسف به ستا تر څنګ وي.» (پيدابښت:۴۶/۲تر۴پورې)

يعقوب له خپلې کورنۍ سره مصر ته کډه شو، «بيا يعقوب يوسف ته وويل: زه به ډېر ژر ومرم خو يهوه خداى به ستاسو سره وي او تاسو به بيا ځلې **د خپلو نيکونو ځمکې ته ستانه کړي، ما چې پهخپله توره او غشيليندۍ باندې له اموريانو څخه ځمکه نيولې، تا ته در ببنم چې پر خپلو ورونو برترې لرې.»** (پيدابښت:۴۸/۲۱-۲۲)
يهوه خداى چې له يعقوب سره يې د فلسطين د ځمکې ژمنه کړې وه، نه يوازې دا چې هغه ځمکه يې ورنه کړه بلکې له خپلې کورنۍ سره يې مصر ته ولېږه او هلته په مصر کې مړ شو چې بيا يې د يهوه خداى موعوده ځمکه په سترګو هم ونه ليدله.

حيرانوونکې خو لا دا ده چې يعقوب خپل زوى يوسف ته وايي: تاسو به يهوه د خپلو نيکونو ځمکې ته ستانه کړي بيا وايي چې له اموريانو يې د توري په زور ځمکه ګټلې ده. په داسې حال کې چې د اسراييلو په ديني او تاريخي سرچينو کې داسې پېښه نه ده ثبت شوې چې يعقوب د خپلو دولسو يا يولسو زامنو پر مټ د اموريانو له لوى قوم سره جګړه کړې وي او ځمکې يې ترې نيولې وي. يوازې د يعقوب د ځمکې په اړه دومره مالومات شته چې «وروسته [يعقوب] له هغه ځايه په سلامتۍ سره د کنعان شکيم سيمې ته کوچ وکړ او له ښاره يې بهر کېږدۍ ودروله، **په هغه ځمکه کې چې يعقوب کېږدۍ درولې وه، د (حمور) له کورنۍ، د شکيم له پلار څخه يې د سپينو زرو په سل پاره [؟] باندې پيرودلې وه.»** (د پيدابښت کتاب:۳۳/۱۸-۱۹)[4]

بله دا چې ابراهيم او اسحاق په کنعان کې غريبان[5] وو، دومره ځمکه يې نه درلوده چې ابراهيم خپله مړه شوې ښځه (سارا) په کې ښخه کړي، ابراهيم په کنعان کې حيتي قوم ته وويل:**«زه په دې هېواد کې غريب او ميلمه يم، دومره ځاى نه لرم چې خپله ښځه په کې ښخه کړم... .»**[6]

په مصر کې د يعقوب له کورنۍ څخه د څلورو پيړيو او ديرشو کلونو په اوږدو کې داسې يو بتپرست قوم جوړ شو چې هم يې خپل دين هېر کړى ؤ، هم يې خپل قومي خداى يهوه نه پېژاند. لنډه دا چې يهوه خداى خپلې کړې ژمنې چې له ابراهيم، اسحاق او يعقوب سره يې کړې وې پلې نه کړې او د اسراييلو دا درې تنه نيکونه او پيغمبران د فلسطين د ځمکې په ارمان او د ناهيلۍ په حالت کې مړه شول، يوازې دومره يې وکړه چې د دغو درو تنو مړي يې په کنعان کې د حبرون په سيمه کې په هغه سوړه (غار) کې ښخ کړل چې د حيتيانو په قوم کې د يو تن ملکيت ؤ. (چې په اړه يې مالومات خپاره شي.)

---

4: اسراييلي خاخامانو د فلسطينيانو د خاورې د خپلو په موخه په خپلو ديني منابعو کې ډېرى لاسوهنې او اړونې کړې دي چې دا هم د فلسطين د ځمکې د نيولو لپاره يو دليل وي چې ګواکې يعقوب له ځايي خلکو څخه د پيسو په بدل کې ځمکه پيرودلې ده.
5: پيدابښت:۱۷/۸؛ ۲۸/۴.
6: پيدا بښت:۲۳/۴.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ


(ویرژړلي میاندي، د خپلو بې ګناه ماشونو د شهادت په ویر کې.)

نېټه:۱۴۰۳/۳/۵ل. ل

**نوربیا**

د ښاغلي محمد انور اخڼ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ